# Arzani Kheshgi and his Brothers in the Annals of Roshanite Movement

Saidul Amin Ahsan Kheshgi

**Abstract**: The political fall of Lodi dynasty (1451-1526), and subsequent rise of Mughals (1526-1857), caused decentralization of Pashtuns, and struggle for their political survival was inevitable. Amongst the perceptible repercussions, the Sixteenth-Century Koniguram-based religious cum political Roshanite Movement, was the one that the shrewd Mughals tackled tactfully. Years of seclusion and spiritual experiences motivated Bayazid Ansari alias Pir Roshan (1519-1577/78) to establish his school of thought, the Roshania, and to rapidly gain ground in width and breadth. While attracting the brilliant minds, the charismatic mystic, compelled Mullah Arzani Kheshki (1523-1619); an encyclopedic theologian, man of letters, and the pioneering associate of the movement, to leave along with his brothers Mullah Umar and Mullah Ali, for Waziristan to join the group. Reportedly, Arzani was deputed to India afterworlds, while his brothers preferred staying here. An attempt has been made in this paper to shed light on the lives of Mullah Arzani Kheshki, and of his brothers, and their association and role with and in the movement.

**Keywords**: Mullah Arzani, Haalnam-e-Bayazid, Bayazid Ansari, Akhund Darweza, Mullah Ali Kheshgi, Mullah Umar Kheshgi

دبایزید انصاري [1, p6](1577/78-1519)په خلفاءُ او مریدانو کښې دنورو نه علاوه دارزاني خویشکي(1619ع1523-ع قیاساً)[2, p59] حیثیت په دے بنیاد زیات اهم دے چې دوي د خپل دیوان دداخلي شهادتونواودهمعصرو موافقینو او مخالفینوداعترافونو په اساس دنورو مریدانو په نسبت زیات عالم، فاضل اوصاحبِ فن اوکمال ښکاري،دبایزیدانصاري دمکتب اتباع یې د جذباتي اوروحاني عقیدت په ځاے شعوري زیاته بریښي، اوحقیقت خوداده چې ددوي دشعر،نثر اوفکر انداز اوفکري علویت دخپل مرشد نه هم زیات مستند ،مدلل اوپوخ ښکاري*،ددوي دشخصیت او فن سنجیده لوستونکي کله کله حېرانتیا په مخه کړي چې هغه کوم اسباب اوعلل ؤ چې دارزاني غوندې متبحر عالم ئې له هند یا قصور نه د بایزید انصاري په حضور کښې حاضرېدو، لاس نیوې اوبېعت دپاره په عازمِ سفر کېدلو مجبوره کړلو؟بیا هند ته دتللویا لېږلو نه پس ددوي دژوند اثار بل ځاے ولے په نظر نهٔ راځي ؟او دحالنامې مؤلف ددوي بیعت کؤلونه پس مونږ ته په هند کښې ددوي د پاتےژوند په باب نور معلومات ولې نهٔ راکوي؟

دغسې ارزاني خويشکي دروښانيانو اودمخالفينوترمينځه شووجنګونو،دخپل مرشد دمرګ او دخپلو پيربابايانو د وفات ذکرولې نهٔ کوي.اوبيا نوره دتعجب خبره داده چې ددوي نور همخياله او همفکره ملګري چې په هند کښې ميشته ؤ،هم چرته ددوي ذکر خپلو تصنيفاتو يا احوالو کښې نهٔ کوي، لکه دميرزاخان انصارى(979-1040)ھ ([3]ديوان کښې سره دهغوي دجمالياتي اومتصوفانه پخته غزل،نظرياتي اوروحاني اشتراکِ فکر،اوموضوعاتي مشابهت، د خپل متقدم ارزاني ذکر په نظر نهٔ راځي،دغسې دحالنامې دمؤلف علي محمد مخلص(1664-65-1610-11 ([4] په ديوان کښې هم دالف نامې،دبايزيد انصاري د دمخصوصو مقاماتو ذکر، اودپيرِ کامل فکري اشتراکاتودتکرار باوجود د پيش رو،ارزاني نوم نهٔ ښکاري،نسبتا وروستي روښاني شاعرکريمداد[5] په ديوان کښې هم داسې څهٔ نخښنه مونږ نهٔ وينوالبته يومؤخر شاعردولت لواڼي(955-60 ھ-1058ھ) [6, pp8,9,218]

بې ميرزا،بې ارزاني ،بې مخلص ياره
بل شاعر برابر نه دې پښتون ستا، يو

په ديوان کښې 'بې ميرزا،بې ارزاني ،بې مخلص ياره' شعر راؤړي. داپوښتنې دتحريك په باب دنورتحقيق تقاضا کوي چې نتيجتاً دتحريك نور پټ اړخونه به دنوي کهول دمحققينواولستونکيو مخې ته کېږدي .

ددې دعوې بنياد ددواړومحترمو شخصياتو دعلمي تصوفي او ادبي مقام افراط او تفريط ګڼل نه بلکې په يو انداز ددواړوعظمت او ديو بل دپاره احترام په ګوته کوي،خو دارزاني خويشکي شاعري،نثر او افکار زمونږ ددې خيال تائيد کوي چې اختلاف ورسره کېدے شي.

په اعتقادي او نظرياتي مخالفه ډله کښې دمعاصر،مخالف اومعترف اخون درويزه بابا (940ھ/1533ع-1048ھ/39-1638) [7, p14][8] نه علاوه، دارزاني په متاخرينو کښې رحمان بابا،خوشحال خان خټك، اشرف خان هجري [9] اوځنې نور ددوي ذکر کوي ، دا په دوي دارزاني دافکارو يو غير شعوري اثر ګڼلے کېدے شي،اوددوي دشعر ذکردپښتو دادبي تاريخ دارتقائي سفرکړې خپلو کښې سره تړي.

دبايزيد روښان دتعليماتو اوپيرئ د خبرې په خواؤشا کښې خورېدلو او له لرے اونزدے پرې دعوامو اوخواصو راماتېدلو،ارزاني خويشکي هم دوليانو له مرکز هند نه سره دخپلو وروڼود دے پښتون 'ولي' په خدمت کښې حاضرېدو ته وهڅؤلو په حالنامه کښې ددوي ددغه راتللو ذکراو دوطن اومسکن په باب مؤلف علي محمد مخلص داسې ليکي،

ملا ارزاني از قبائل خيشکي بودووطن درقصور داشت واسوده درنواحي خورجه وابستم.[10, p282] ترجمه/مفهوم: ملا ارزاني دخويشکي له قبيلو څخه ؤ، اوپه قصور کښې ئې استوګنه لرله اودخورجه په مضافاتو کښې اسوده او'وابسته' دے

عاقبت دی واړه خاؤرې دلحد کړل
روښاني که ارزاني که قلندر وۀ

ډاکټر پرويز مهجور خويشکے هم دحالنامې په حواله دارزاني متعلق دقصور دذکرکؤلو نه پس کم وبيش دغه پورته الفاظ نقل کوي،[2, p60] دغسې حالنامه ميا روښان هم دغه عبارت راؤړي[11]

د حالنامې دمؤلف دپورته عبارت ترمخه د'آسوده'، لفظ لغوي څېړنه ،چې دموجود ترين دپاره يې هم ' اسوده درسرهند است' ذکرکوی ،لغت نامۀ دهخدا داسې کوي

اسودن(مصدر) ارميدن،مستريح شدن،راحت،استراحت يافتن،استجمام،استرواح. اسودگي: ارامش،ارامی،نرمی،اهستگی،فراغ بال ،جمعيت خاطر،سبات ،بی رنجی پرداختن،خوابيدن،خفتن [p139 ,12]

ترجمه او مفهوم: ارام کول،ارام کونکے کېدل، ارام موندل، جمع کېدل،ارام ،نرمي،قراري،بې غمه کېدل،دزړۀ جمع کېدل،پريکړه،بې غمي،وده کؤل،اودۀ کېدل

اوس د حالنامې د'اسوده 'دا معنې ذهن کښې ساتلو سره ،کۀ قياساًاوتخميناً دحالنامې دنوي ترتيب اوتدوين زمانه، داورنګ زېب عالمګير (1618-1707) دتخت نشينئ زمانه 1658-1707) [13, p182] (يا معروف قول 1058ھ/1648ع واخلو اوبيا د ارزاني دوفات کال دنعيمه کشور مهجور1028/1619ع [2, p63]، دډاکټر مهجور صاحب دمحتاط قول اودديوان دشهادت په بنياد ددوي ژوند 1010ھ/1601ع پورې يقيني ، اودارزاني دمزار دسجاده نشين رالېړلې د کتبې عکس [1] باندې ليك 1028ھ/1916ع حتمي وګڼو نو تخميناً ذهن دې طرفته مائله کيدے شي چې د'اسوده' نه مراد دهغوي مرګ نه، بلکې په ارام دګوشه نشينئ ژوند تېرؤل واخلو خو دارزانی دژوند يا مرګ په باب دحالنامې دغه بيان کښې تضاد، ابهام يا نظرانداز کېدل ښکاري.او دغالب ګمان په بنيادد حالنامې دتدوين په وخت کښې ارزاني خويشکي ژوندے ښکاري او په ديو بنيادونو کم نه کم مونږ د'اسوده در نواحي خورجه'غوندې مبهم ذکرنه ددوي د'مرګ خبر' نۀ شو اخذکؤلے،البته کۀ دحالنامې دتاليف زمانه وروستو وځنډؤلې شي نوهغه بيله خبره ده خو دا به ګويا ټول واقعات له نوي سره بيا ترتيب کؤل وي

دحالنامې پښتو مترجم محترم ډاکټر عبدالقدوس عاصم دحالنامې پښتو ترجمه کښې دارزاني متعلق ليکي 'او مزارئې په پټنه کښې دے اولويه مدرسه پرې جوړه ده'[14, p407]،سره دهغوي د تاريخي زياراو دعلمي حيثيت دهغوي ددغه ليك په عکس دحالنامې د پورته ذکر دواړو چاپ نسخو په فارسي متن کښې د'پټنې 'ذکرپه نظر نۀ راځي، لوستونکي حيران شي چې دترجمې دوران کښې دهغوي محترم په وړاندې کومه نسخه وه چې د'پټنه'ذکر پکښې وۀ؟، خوډاکټر

[1] مېسېنجر په لار د پروفېسر شاه حسېن احمد ارزاني خوېشکي سره زما پېغامونه.

عبدالخالق رشيد نه علاوه قريباً هم دغسې انکشاف محترم ډاکټر لطيف ياد هم خپله مقاله 'پښتون صوفي،شاعر ملا ارزاني خيشکي' [2]کښې کوي، دوي په هند کښې د بايزيد دمريد 'شاه ارزاني' په نوم د شهرت لرلو سره مونږ ته ددغه،دمزار دتعين او په مزار دمتوليانو دتقررذکر داسې کوي،

> 'دده (بايزيد انصاري)په مريدانو کې يو هم ملاارزاني خيشکي دے چې په هند کې په شاه ارزاني خويشکي سره هم شهرت لري'

> 'دده په مزار منجوريا متولي (سجاده نشين) په موروثي بڼه نه، بلکې دخلقو په خوښه ټاکل کيږي اوزياتره متوليان يا منجوران ئې دپښتې دپوهنتون استادان وي'

اوس د 'پټنه' اودحالنامې د'خورجه' د روايتونو په تطبيق کؤلو کښې مونږ له داهم ذهن کښې ساتل پکار دي چې په جغرافيايي توګه پټنه په بِهار شمالي هندوستان او خورجه اترپرَديش کښې ده اوددواړوترمينځه تقريبا دنههٔ سؤوکلوميټرونه زياته فاصله جوړيږي نو ددواړو روايتونو ترمينځه تطبيق قوي منطقي ربط او پاخهٔ داخلي او خارجي دليلونه غواړي.
بل د'شاه ارزاني' ذکرذهن ته د 'محمد اکبر ارزاني بن محمد مقيم دهلوي' نوم هم راولي،' چې 'دشاه ارزاني په نوم شهرت لري او ديولسمې دولسمې هجرئ په يادو حکيمانو اوطبيبانو کښې دے'[8, p118]،دتعاريف الامراض،مفرح القلوب،طب اکبري يا طب الاکبر ،مجربات اکبري،اومجربات هنديه نه علاوه ئې 'ميزان الطب' [15]هم ليکلے دے.
اوس نو دپورته بحث په نتيجه کښې سوال دادے چې ايا په 'پټنه' کښې موجود دا مشهورمزار دهغه ارزاني دے کوم چې دبايزيد روښان مريد ؤ؟ اوحالنامه يې په 'خورجه کښې اسوده' ذکر کوي. اوکهٔ نه هغوي خورجه کښې خاؤرو ته سپارلے شوي دي،؟ ددواړو بيانونو دقضيې حل څهٔ دے؟
ددے اشکال دحل کؤلو دپاره ماد انټرنټ له لارې په هند کښې د'شاه ارزاني' دمزار موجوده سجاده نشين اومحقق ' پروفيسرسيد شاه حَسين احمد ارزانی خويشگی' سره رابطه وکړه اودغه بيانونه مې ورته وړاندے کړهٔ ،دلوحِ مزار دعکس د طلب سره سره دنورو پوښتنو جوابونه موترې وغوښتهٔ نو دانټرنټ له لارې هغوي دمزاراواحاطې دعکسونو،اودمزارپه بهر دروازه نصب کتبې/قطعې نه علاوه داتفصيلات راوليږل،

لوحِ مزار آفتابِ شريعت حضرت ديوان شاه ارزانی رحمۃ اللہ عليہ

رفت قطب زمان بامانے

برياض بہشت نورانے

[2]ډاکټر لطيف ياد: afghanexpress.wordpress.com

سال فوتش زفيض ملهم غيب گفت دل شاه جنت ارزانے 1028ھ/1619ع

دهغوي دأُردوبرقي پيغام نوره حصه داده

- ارزانی خویشگی، ملاارزانی، حضرت دیوان شاہ ارزانی، شاہ ارزانی دولھا، آفتاب شریعت حضرت دیوان شاہ ارزانی، قطب الاقطاب حضرت دیوان شاہ ارزانی، آفتابِ ولایت حضرت دیوان شاہ ارزانی ایک ہی شخصیت کا نام ہے جن کی ولادت پنجاب پاکستان کے صوبہ (شہر) قصور میں ہوئی جو پشتو زبان کے پہلے صاحب دیوان شاعر ہیں اور جن کا وصال 1028ھ میں ہوا
- ہندوستان میں روحانی شخصیت کے نام کے ساتھ "شاہ" بھی لکھا جاتا ہے
- میزان الطب کے مصنف کا نام حکیم اکبر ارزانی ہے
- ڈاکٹر پرویز مہجور نے حضرت کا جو کلیات مرتب کیا ہے اس میں ڈاکٹر مہجور نے ڈاکٹر عبدالخالق رشید کے حوالے سے لکھا ہے کہ ارزانی خویشگی کا مزار ہندوستان کے صوبہ بہار کے شہر پٹنہ میں ہے۔ حضرت کے سلسلے کی خانقاہیں ہندوستان کے کئی شہر میں ہیں، بنگال میں اب (آپ) کے سلسلے کے مریدوں کا بڑا حلقہ ہے۔[3]

ترجمه:

- ارزاني خوېشکي،ملاارزاني،حضرت ديوان شاه ارزاني،شاه ارزاني دولها،آفتاب شريعت حضرت ديوان شاه ارزاني،قطب الاقطاب حضرت ديوان شاه ارزاني،آفتابِ ولايت حضرت ديوان شاه ارزاني هم ديو شخصيت نامې دي چې د پاکستان په پنجاب صوبه(ښار) قصورکښې وزېږېدو اوچې دپښتو ورومبے صاحبِ ديوان شاعردے اوچې وصال يې په هجري کال يوزر اتهٔ ويشت1028ھ کښې وشو،
- په هندوستان کښې دروحاني شخصيت دنوم سره'شاه'هم ليکلے شي
- دميزان الطب دمصنف نوم حکيم اکبر ارزاني دے
- ډاکټر پرويزمهجور چې دحضرت(ارزاني) کوم کليات مرتب کړے دے په هغې کښې ډاکټر مهجور دډاکټر عبدالخالق رشيد په حواله سره ليکلي دي چې دارزاني خويشکي مزار دهندوستان دبِهار صوبې په ښار پټنه کښې دے.دحضرت دسلسلو خانقاهونه دهندوستان په څو ښارونو کښې دي،په بنګال کښې ددوي دسلسلې دمريدانو يوه درنه حلقه ده>

دمحترم سجاده نشين دذکر نه ډېر اګاهو په کال نولس سوه دېرش(1930ع) کښې هم دغه پورته ياده کتبه او تاريخ ددغه هجري کال سره ' دي جرنل اف دي بهار اينډ ريسرچ سوسايټي' [16]،هم دبِهار دنورو درګاهونو،جماعتونو،يادګارونو،مقبرو اوابادیوپه ذيل کښې ذکرکړې ده،د'شاه ارزاني' ددرګاه په بهرنۍ دروازه نصب بله کتبه دوي دارنګ نقل کوي

[3] مېسېنجر په لار د پروفېسر شاه حسېن احمد ارزاني خوېشګي سره زما پېغامونه. ۱۱ اپرېل ۲۰۲۰.

بهر تاريخ درگهش رفتم پاك درگاه خاص حق گفتم[16, p342] ۱۰۵۲ھ او دا'پاك درگاه خاص حق'(1052ھ) شايد ددغه بهر دروازې دتعمير تاريخ بيانوي

د' شاه ارزانی' ددغه مزار متعلق دغه 'جرنل' نور ليکي:

The mausoleum of Shah Arzani, who is held in great reverence by both Hindus and Muhammadans, is situated in Mohalla Dargah, South of Sultangunge, about two miles east of Gola. Shah Arzani died in 1028 AH (1619 AD) [16]

ترجمه:دشاه ارزاني( دا)مزار دهندوانو او مسلمانانو تر مينځه ډېر عزتمند ګڼلے شي او دګوله نه دوه ميله نمرخاتهٔ پله،دسلطان ګنج سويل اړخ ته ،درګاه محله کښې دے.شاه ارزاني په يوزر اتهٔ ويشت1028هجري/1619ع کال وفات دے

دپورته بحث ضمن کښې د ارزاني او' شاه ارزاني 'متعلق دسَنَد په بنياد بايد يوه بله نسبتا کمزورې خبره هم ذهن کښې وساتو اوهغه د'خزينة الاصفياء'دمؤلف مفتي غلام سرور لاهوري د'شاه ارزاني قادري سهروردي پټوي قدس سره'په عنوان دارزاني تذکره کړې دي، په دغه کتاب کښې د شاه ارزاني دوفات متعلق ورکړې شوې تاريخ دپورته ورکړو شوو حوالو اوسَنَدونو په مقابله کښې شکونه زيږوي، دوي ددغه پورته عنوان لاندې ليکي

آپ نے چند سہروردی حضرات سے سلسلہ سہروردیہ کا فیض حاصل کیا اور خرقہ خلافت پایا آپ کاملانِ وقت میں شمار ہوتے تھے، لہذا صاحب معارج الولایت وغیرہ نے آپ کو پیرانِ سلسلہ سہروردیہ میں شمار کیا ہے۔ 1040ھ میں وفات پائی، پٹنہ شہر میں آپ کا مزار زیارت گاہِ خلق ہے

قطعہ شاه ارزانی چو از فضل خدا رفت ازدنيا بملک جاودان

کن رقم شيخ مکمل رحلتش کاشف دين شاه ارزانی بخوان [17, p155]

ترجمه:دوي دسهروردیې طريقې دځو حضراتو نه فيض حاصل کړو اودخلافت خرقه يې ترلاسه کړه،دوي دخپل وخت په کاملانو کښې شمېرلے شو ځکه نو د'معارج الولايت' صاحب وغېره دوي دسهروردیې سلسلې په پيرانو کښې شمېرلے دے په ۱۰٤۰ھ کښې وفات شو په پټنه ښار کښې ددوي مزار دخلقو دزيارت مرکز دے

ددې پورته حوالې تحليل اوتجزيه چې کوّ نو يو خود'خزينة الاصفياء' دغه ورکړې شوے يوه مصرعه دمؤلف دتحرير مطابق هجري تاريخ'شيخ مکمل رحلتش'(1978) عدد لري،1040ھ کال نه، اوالبته دغه بله مصرعه'کاشف دين شاه ارزاني' 1040ھ لري، خوددې سقم نه علاوه نورو سَندونو تاريخونو، د موجوده متولي د قولي او تحريري سند، دارزاني د مزار په دروازه

نصب دهغوي دوفات قطعه او کتبه ،اود 'جرنل اف دي بهار اينډ ريسرچ سوسايټي' مذکوره کتبه سره متضاد ښکاري او بل دښاغلي مؤلف وينايې د'معارج الولاية ' نه بله کومه مستنده حواله نهٔ لري نو زميني حقائق او پورته سندونه في الحال مونږ دې ته مائلوي چې مونږ دې 1028ھ/1619ع کال محتاطاً دارزاني دوفات تسليم کړو او دغه دارزاني دديوان پورته او لاندې ذکر داخلي شهادتونو سره ترډېره حده مناسبت هم خوري.بل اړخ ته محقق محمد اقبال مجددي د'خزينة الاولياء' دماخذ 'معارج الولايت' باره کښې خپله ناقدانه رايې داسې کښې ليکي:

*معارج اور خزینہ کے بعض مقامات کے موازنہ سے معلوم ہوتا ہے کہ خزینۃ الاصفیاء کے مصنف نے معارج کا خلاصہ کیا ہے بالخصوص مشائخ قصور کے حالات معارج اور اخبار الاولیاء سے منقول ہیں مشائخ کے حالات تو مفتی صاحب نے معارج الولایت سے نقل کر لیے لیکن ان کے سنین وفات خدا معلوم کہاں سے نقل کے ہیں حالانکہ معارج میں تو ان سنین کا نشان تک نہیں ہے یا مفتی صاحب مرحوم کے پیش نظر معارج کا جو خطی نسخہ تھا اس میں یہ سنین کسی کاتب نے لکھ دئے ہوں گے۔*[pp99-98,18]

کهٔ مونږ خبره دارزاني خويشکي دوفات تاريخ باندې مرتکز کړو نو د'معارج الولاية 'دمصنف عبدالله خويشکي قصوري باره کښې محمد اقبال مجددي ليکي،

*اور تو اور جن افغان خویشگی مشائخ قصور کا ذکر کیا ہے کسی بھی شیخ کا سالِ وفات نہیں لکھا ہے۔*[p101,18]

ترجمه: دمعارج اوخزينه دځنې ځايونو دموازنې نه دا ښرګنديږي چې دخزينة الاصفياء مصنف دمعارج خُلاصه کړې ده،په خاصه توګه دقصور دمشائخو حالات يې دمعارج اواخبارالاولياء نه نقل کړي دي،دمشائخو حالات خومفتي صاحب دمعارج الولايت نه نقل کړهٔ خو خداے خبر چې دهغوي دوفات کلونه يې له کومه نقل کړهٔ او حال داداے چې په معارج کښې ددغه کلونو نخښنه قدر هم نشته يادمفتي صاحب په وړاندې دمعارج هغه خطي نسخه وه چې دغه کلونه پکښې کاتب ليکلي وي

نور خو پرېږده چې (عبدالله خويشکي)د قصور دکوموافغانانو خيشکيانو مشائخو ذکر کړے دے ديو دوفات کال يې هم نهٔ دے ليکلے۔

شايد دلته داخبره ذکر کوُل هم بې ځايه نهٔ وي چې دمتصوفينو دنورو تذکرو په شان حالنامه کښې هم دغه کمےمحسوسيږي چې څهٔ واقعات او پېښې پکښې يا خوبيخي ذکر نهٔ لري ،څهٔ نظراندازکړې شوې ښکاري اود څه تاريخي سند دنشت برابر په نظر راځي چې محققين ديقين په ځاے ګمان طرف ته بيايي،او هم دے کمي ته ډاکټر اختر خان هم اشاره کړې ده چې' دحالنامې مصنف دتاريخ په باب کښې ډېر بې فکره دے اکثر تاريخونه نهٔ ليکي اوچې کوم ليکي هغه هم اعتباري نهٔ وي۔[p78 ,19]

دغسې ډاکټر پرویز مهجور صاحب یې چې دزېږون کال قیاساً(929ھ/1523ع) د ژوند آثارترکال( 1010ھ/1601ع) پورې یقیني ښائي اودبرطانیې دنشریاتي ادارې( بي بي سي) داردو سروس سره منسلك دعبدالخالق رشید اونعیمه احمد مهجورځنګه چې مونږ ورته پورته اشاره کړې ده، دشوې پروګرام په حواله لیکي چې 'دهندد بِهارصوبې په پټنه نومې ښار کښې د دهٔ قبراومشهور زیارت دے او ددغه قبر په کتبه ددهٔ دمړینې کال هم هغه(1028ھ/1619ع) لیك دے [2, pp59,63]' نو هغه هم د'خزینة الاصفیاء 'د ورکړې شوې کال په مخالفت تمامیږي

مونږ چې د واردو نوروشکونو درفع کؤلو دپاره ، په پټنه کښې د موجوده مزار سجاده نشین او محقق' امیرطریقت پروفېسر سید حَسین شاه ارزاني خویشګي' سره دانټرنټ دلارې بحث وشو نو 'هغوي وویل چې مونږ چې کله د'شاه ارزاني' عرس کوو نو یوه ورځ وړاندے ترې د'بایزید روشان' عرس هم کوو او ورته'بړے صاحب' (لوے صاحب) وایو،دوي په خورجه کښې دارزاني دمزار د موجود کېدو نفي کښې اوویل چې یوازې په خورجه کښې نه، بلکې بنګال کښې هم دارزاني دمزار خبره کېږي خو وجه یې دوي داذکر کړه چې ارزاني کوم ځاے هم چله اېستې ده نو معتقدینو یې هلته قبر ګڼلے دے،
د یوې پوښتنې په ځواب کښې دوي وویل چې مونږ خپل نسبت ارزاني ته کوو او داسلسله'قادري سهروردي ارزان شاهي 'بللې شي، څهٔ علاقو کښې 'روشاني 'هم بللې شي خو دا هم ګڼو چې مشرب او مسلك وسیع ساتلو په غرض د ارزاني په ځاے سهروردي او قادري طریقوته هم نسبت کوو چې دا ټولې طریقې په هغوي کښې راغونډې وې،ځکه ارزاني سلسله کهٔ وي هم مونږ دوسیع المشربئ په بنیاد نورو معروفو سلسلو ته زیاته ترجیح ورکؤ'
پروفېسر موصوف داعجیبه خبره وکړه چې 'دلته ددے مزار خواؤشا(احاطه) کښې یو مزار بل هم دے چې دشیخ جلال الدین، (جلاله)،مزارګڼلے کېږي شاید دهغوي دبدن دربمه حصه وي'دوي دا هم ووئېل چې د(مغولي جلال الدین) اکبر دعتاب نه دبچ کېدو دپاره مؤرخینو او تذکره نویسو عمداً د روښنانیانو اوارزاني پوره ذکر پټ ساتلےدے،چا ارزاني،اوچا ارزان لیکلے دے،. دوي خپل تحویل کښې د 'مراة المحققین دخطي نسخې دموجود کېدو' ذکر هم وکړو، دغسې دوي دارزاني دیوې پښتو سفرنامې' ذکر هم وکړو چې اوس په لاس نهٔ راځي'[4]

دخارجي شهادتونو نه علاوه ارزاني په کلیاتو کښې موجوده دا څلوریزه او وربسې نور شعرونه هم دداخلي شهادتونو په توګه تردېره حده دیو زر اتهٔ ویشت1028ھ کال ددغه پورته دعوې کافي مرسته کوي، دوي وایي،

[4] مېسېنجر په لار د پروفېسر شاه حسېن احمد ارزاني خویشګي سره زما پېغامونه. ۱۷،۱۸ اپریل ۲۰۲۰.

دا عزل (غزل) په تاریخ کښلے په حساب ددوست دغو دے
غښن زردال ئې څلور دے په شپږ یاد حساب دواو دے [2, p398]
ددې عرض تاریخ وغواړه په حساب له حرفه یرض [2, p674]
ارزاني دا کلام کښلے په الف تسعه سنه [2, p339]
فقیر کوښلے دے دا شعر په نهۀ صد نو دسنه دے[2, p978]

د'دغو'او'یرض' نه یوزر لس(1010ھ) عدد راوځي، او وروستو دواړو شعرونو نه 'نهۀ سوه نهم ' هجري کال راوځي خو ددوی دوفات په باب دغه کلونه داخري کلام کېدو څۀ قرينه نۀ لرلو په اساس حتمي نۀ دي ګڼل پکار شايد دوي له دغه نه پس هم لږ يا ډېر ژوندے پاتے وي خو دومره کلونه ژوندي پاتے کېدل به محال وي چې د 'خزينة الاصفياء'1040ھ کال پورې يا دهغې نه وروستو پورې يې هم ژوندے وګڼو ځکه چې داسې ګڼلو کښې به تخميناً ددوي عمر دلس دپاسه سلو(۱۱۰) کلونونه تجاوز کوي،اګر کۀ مرحوم ډاکټر محمد اعظم اعظم او محترم ډاکټر يارمحمد مغموم خټك دارزاني ژوندد کال1010ھ پورې يقيني ګڼلو نه پس بغېرد څۀ دليله ليکي'ددے نه پس زر وفات شوے دے'[20, p316]
بل اړخ ته دمزاردځاے ځايګي په حقله خان بهادر پروفېسر ډاکټرمولوي محمد شفيع'اولياۓ قصور' کښې د"ارزانی عزیز زئ" پېژندګلو کښې داسې ليکي،

مرید پیر تاریکی کہ مشہور بہ پیر روشان است کہتے ہیں۔کہ جب اس کے فسادِاعتقادپر متنبہ ہواتورجوع کیااوررد وقدح مے کوشید پشتو میں دیوان تالیف کیا کہ بہت مستحسن ہے اواکثر حقائق ومعارف اس میں درج کے کہ سالک کادستورالعمل ہیں

"گوئيند چوں مرزا ديوان خود راتصنيف کرده بعد ازاں ديوان ارزانی راديد پشيماں گشت وگفت کہ اگر من پيش ازيں ديوان ارزانی می ديدم چنداں رنج وتعب دردويوان خود نمی کشيدم کہ ايں ديوان از ديوانِ من بمراتب افضل است" [21, p56]

ترجمه:دپير تاريکي مريد چې په روښان پير شهره لري،وئېلے شي چې(دوي) کله دهغوي دعقيدې په خرابۍ خبر شو نو رجوع يې وکړه،او په رد او قدح کښې يې هڅه وکړه،په پښتو کښې يې ديوان تاليف کړو،چې ډېر غوره دے اواکثر هغه حقيقتونه او دمعرفت خبرې يې پکښې درج کړې چې ديو سالك دعمل دستور وي

وئېلے شي چې کله چې مرزا خپل ديوان تصنيف کړو او بيا يې دارزاني ديوان وليدلو نو پښېمانه شواو وئيل يې کۀ مې مخکښې دارزاني ديوان ليدلے وے نو دخپل ديوان( په ليکلو) به مې ځان نۀ وۀ خفه کړے او ستړے کړے چې داديوان په مرتبوکښې زما له ديوان نه غوره دے

# 1 دزیړون او مرګ ځاےولایت

د ډاکټرمحمدشفیع صاحب ددغه قول نوره تجزیه پرېږدو فقط دموضوع په مناسبت دومره وایو چې دوي دارزاني مولد او مدفن دواړه په 'ولایت 'کښې ګڼي او د معروف قول مطابق 'ولایت'د'پښتنو وطن' ته وئېلےشي خوایا ولایت دپښتنو دے موجوده وطن ته اووایو؟،دارزاني خپل قصور ته،؟اوکۀ دپښتون بادشا ابراهیم لودهي دهغه وخت دهند سلطنت ته؟،دډاکټرصاحب دا قول دارزاني دمولد اومدفن په باب نورې پوښتنې مخې ته راؤړي اونوره بحث غواړي خو دهغوي اختصار نور تفصیلات نۀ لري

دارزاني داوسېدواوزېږون ضمن کښې، کۀ په قصورکښې دپښتنوموجودګي دظهیرالدین بابر له افغانستان نه دراغلي لښکر حصه وګڼو،کوم چې بابرخپلو یادداشتونوکښې دهندپه لوري د پینځم مهم ابتدا په وړومبي صفرالمظفرهجري کال نهۀ سوه دوه دېرشم 932ھ ښائي [22, p445]او مؤرخ ملا عبدالقادر بدایوني هم خپل 'منتخب التواریخ'کښې دسلطان ابراهیم لودهي دوفات دکال تاریخ 'شهید شدن ابراهیم' [23, p280] چې932ھ کال ترې راؤځي، لیکي ،نودابراهیم لودهي دظهیرالدین بابر دلاسه دسقوط اووفات،او بابر د بادشاهئ کال زمونږ دې مفروضې له نورهم تقویت ورکوي چې دنوروپښتنوقبیلو سره، ورسره شاید دارزاني خویشکي کورنۍ هم راغلې وي، او شاید ددوي عمر به دغه وخت یا خو ځو کلونه ؤاو یایې دغه دزیږون کلونه معلومېږي ځکه چې په قصور کښې دپښتنو مېشتۀ کېدل دبابر دیرغل سره تړلې ښکاري اګرکۀ دبابر ددغه مهم نه وړاندے هم دهند په لور سفرونه شوي دي چې تفصیل ئې بابراو اولف کېروبالترتیب خپلو کتابونو'بابرنامه' او 'دي پټهانز' کښې لیکلي دي دارزاني خویشکي دکلیات مقدمه کښې د ډاکټر پرویزمهجورد موخرالذکر کتاب دیومنقول عبارت نه وړاندے اولف کېرو دقصوري خویشکیانو په باب لیکي،

> "In all these expeditions there is no doubt that Babur's armies were greatly strengthened by tribal contingents supplied by the Yusafzais and other tribes with whom he contended or negotiated around Peshawer.Of this one clear instance can be given.The so called Kasuria Pathans who inhabit in the country on both banks of the Sutlaj South of Lahore are of the Khweshgi section of Muhammadzais.They have a clear tradition that they marched from Peshawer in Babur's armies,and were granted lands I the Central Punjab in jagir as a reward for their support to the conqueror".[24, p164]

ترجمه:په دېو ټولو یرغلونو کښې بې شکه چې دبابرد لښکرو زیات ملاتړهغه قبایلي ډلو کړې وۀ کومو چې ورسره یوسفزیو او نورو قبیلو ملګرې کړې وې او چې بابر دهغوي سره دپېښور خواؤشا کښې مذاکرات کړي ؤ،ددې یو څرګند مثال دلته (دا)ورکړې کېدې شي چې دغه نام نهاد قصوري پښتانۀ چې دلاهور نه دسوېل په لور دستلج دریاب په دواړو غاړو وسېدونکي دمحمدزیو یو ښاخ خویشکیان

دي،ددوي څرګند روايت دے چې دوي دبابر دلښکرو سره له پېښوره مخ په وړاندے راغلۀ،او دفاتح دمرستې کوّلو په صله کښې ورته په وسطي پنجاب کښې زمکې په جاګير کښې ورکړې شوې.

اګر کۀ په قصور کښې دخويشکيانو دمېشتۀ کېدو په ضمن کښې داولف کېرو دقول په مخالفت کښې مونږ سره دپروفيسر محمد شفيع قول دذکر شوي دور نه هم اګاهو ددوي وجود ثابتوي.پروفېسر صاحب دعبدالله خوېشګي قصوري د'اخبارالاولياء' په حواله خپل يو تحقيقي مضمون An Afghan Colony at Qasur کښې ليکي:

> The Afghans of Qasur belong mostly to the Khweshgi clan,whose eponym appears to have flourished in the eleventh century. Their original home was the valley of Arghasan in the province of Qandhar... After the battle they looked round for a place wherein to settle and ultimately decided to settle down at Qasur. [25, p454]

ترجمه:دقصور افغانان زياتره دخويشکي قبيلې سره تعلق لري،ددوي وجود يانوم په يولسمه پېړۍ کښې راڅرګنديدونکے مخې ته راځي،ددوي اصلي کوردقندهار صوبې د اَرغسان وادي ده......د(بابر په ملګرتيا) کښې دجنګ نه پس دوي ديوداسې ځاے په لټون وُځي هلته مېشتۀ شي او اخر په قصور کښې اباد شو.

دارزاني دنوم،ولديت اوعلاقې متعلق اجمالي بحث ډاکټر پرويزمهجورخويشکي ددوي دکلياتو په ابتدا کښې کړے دے،خو دخويشکي قبيلې دنسب شجره عزيز زئ ذکر کوي او زير زئي نۀ ذکر کوي [26, p442]،ولې دډاکټر پرويز مهجور خويشکي په خيال ګڼو نورو تاريخونود'زيرزي'ذکر کړي دي،[5] ددوي دغه دعوه چې ذهن کښې ساتونود تواريخ خورشيد جهان مؤلف دجمند په شجره کښې د خويشکي په اولاد کښې د'زيرزي' او دکتاني په اولاد کښې د'عزيرزي ياعمرزي' ذکرکوي [27, p199]،دغسې منشي ګوپال داس 'تاريخ پشاور' کښې د'خويشګی' اولادکښې دزيرزي،عزيرزي اوعمرزي' ذکرکوي [28, p282]،دمحترم مهجور صاحب په قول داخلي شهادت 'دے په خويشکي کښې له زير' ارزاني زيرزے ثابتوي،او عقلِ سليم هم د'زېر او زيرزي'ربط مني ،خودمولوي شفيع'عزيز زي'اودتواريخ خورشيد جهان 'عزيرزي او زبرزي' بيا هم مونږيويقيني اوحتمي رايې طرف ته نه بوځي ، دارزاني دوالد صاحب دنوم په سلسله کښې محترمه عزيزه افغاني خپل تهيسس کښې [29, p15]، داکبرکرګر صاحب د' برهان' [30, p187] اودزلمي هېوادمل صاحب د'ارزاني بن برهان خان خيشکي' [31, p29] په عکس 'برهان الدين خويشکي' ليکي.

مرحوم شيرافضل بريکوټي صاحب هم ددوي دوالدصاحب نوم 'ملابرهان الدين' ليکي:

---

[5] ډاکټر پرويز مهجور خويشکي سره زما د ټېليفون خبرے ۲۸ اپرېل ۲۰۲۰

دقبيلې په حواله ټولو مخكښې اوپورته شوي بحثونو سره دا نكته هم بايد نظر كښې وساتلې شي چې پروفېسر ډاكټر مولوي محمد شفيع 'اوليائ قصور' كښې دارزاني ذكر 'ارزاني عزيز زئ ' سره كوي اودارزاني نه علاوه تقريبا دشپږو نورو سړواوليائ كرامو او يوې بي بي ذكر كوي چې 'عزيز زئ ' [13, p156] ورسره ليكي: خوددوي دپلار دنامې متعلق ترټولوقابلِ قبول دليل اودبل كوم مستند دليل په عدم موجودګئ كښې ددوي دديوان داخلي شهادت 'برهان' دے او هم په دے اكتفا كؤل زيات صحيح ښكاري ځكه چې دا حقيقت ته زيات قريب په نظر راځي.[21, pp17,32,36,51-56,77]

چونكې خليفه مودود ترين او ملا ارزاني دبايزيد روښان هغه اولني خارجي مريدان ؤ چې ددوي د ارادت په حلقه كښې له راتلو وړاندې يې تصنيفات كړي ؤ نو د حالنامې مؤلف علي محمد مخلص هم ليكي چې،

'خليفه مودود وملاارزاني از جانب هندوستان آمده،مريد شدند وبه مطلوب خود رسيدند وهريک صاحب تصنيف گشتہ ومقصودالمؤمنين تصنيف خليفہ مودود است ومرآت المحققين تصنيف ملاارزانی است ويک ديوان بہ زبان افغانی تصنيف کرده است درآن رباعی بی نظير گفتہ'[10, p272]

ترجمه:خليفه مودود اوملاارزاني دهند له لوري راغلۀ، مريدان شوۀ،او خپل مطلوب ته ورسېدل،دادواړه كتاب ليكونكي وۀ،اومقصودالمؤمنين دخليفه مودود تصنيف ؤ اومراة المحققين د ملاارزاني ؤ،او يو ديوان يې په افغانی ژبه تصنيف كړے چې پكښې يې بې مثله رباعيانې وئيلے دي

پورته د مودود دپاره د'خليفه ' او ارزاني دپاره د'ملا'لفظونه مرحوم سيد محمد تقويم الحق كاكاخېل صاحب په دې نتيجه اخذكؤلو مجبوروي چې،

'دغورخبره داده چې حالنامه مودود ته خليفه ليكي،بايزيد رعمي(؟) ته خليفه ليكي خو ارزاني ته صرف ملا ليكي اوهېچرته داذكر نۀ كوي چې پير روښان هغۀ 'خليفه' كړۀ اوقصور ته ئې واستولو بيا دهغه'مطلوب' څۀ وه؟...'[32, p3]

اګرچې ډاكټر پرويز مهجور د مرحوم تقويم صاحب ددغه اعتراضونو جوابونه دپښتو اكېډيمی'پښتو' كښې شايع خپله مقاله، او ډاكټر يار محمد مغموم خټك صاحب هم خپل تهيسس'روښانيان او پښتو ادب'[33, p423,431,435,437] كښې كړي دي خوحالنامه پخپله د تقويم صاحب ددغه شبهې په ضد دارزاني خويشكي دپاره د'خليفه'تورے بل ځاے راؤړي، او،ليكي

"بعده خليفه ارزانی رابہ سوئے هندوستان مرخص نمود تا خلق الله از وی معرفت ذات وعلم توحيد حاصل نمايد"[10, p375]

ترجمه:بیا ئې خلیفه ارزاني دهند په لوري رخصت کړو چې دخداے بندیان ترې دخداے دذات او توحید علم ترلاسه کړي.

په اصولي توګه ارزاني خویشکي له دخپل مرشد په صحبت کښې دنور فیض ترلاسه کؤلوپه غرض ایساریدل پکارؤ،خو هند ته زر بیرته تلل کۀ یو اړخ ته دمعترضینو په زړونو کښې دمرید اوخلیفه ترمینځ دخفګان لرلو وسوسې پیدا کوي نو بل اړخ ته دموافقینو په زړونو کښې د مرید اومرشد د اطاعت نقشه هم سازوي ، اودارزاني خویشکي په فضیلت او کاملیت دلالت هم کوي، چونکې د پښتنواوغېرپښتنومتقدمینو محققینو دپاره د روښاني تحریك دمطالعې اساسي منابع دډېروروستو تالیف شوي حالنامې نه وړاندے دخپل وخت دعالمِ دین اومخالف اخون درویزه بابا تصنیفات 'تذکرة الابرارولاشرار' او'مخزن الاسلام' ؤ چې دتحریك پوره، نیمګړے ، حقیقي یا موضوعي مواد ئې لرل اوتحریك سره دوابسته وګړیو په باب تریوحده غیرمعتدل بیانونو باندې مبني ؤ، نو زیاتروخارجي محققینواومؤرخینو هم هغه دعاوې راخستې، لکه دهند دمؤرخینو ملا عبدالقادر بدایوني د'منتخب التواریخ'[23, p295]او دمولوي محمد نجم الغني خان رامپوري د 'مذاهب الاسلام ' [34, p576]نه علاوه غربي مستشرقینو هم د روښاني تحریك په باب د اخون درویزه بابا دکتابونو بیانونه خپل دلایل ګرځوؤلي دي او قریباهرچاپرې خپله دعوی مرتب کړې ده، نتیجتاً څوك دتحریك په مرسته، څوك مخالفت ولاړ، او چا ئې تعبیر سیاسي،چا مذهبي اوچا نیم سیاسي ،اوچانیم مذهبي کړے دے. اګر کۀ قلندر مومند صاحب وائي چې 'تراوسه چې مونږ ته داخون درویزه کوم کتابونه رارسېدلي دي دادهغۀ خپل تحریر نهٔ دے،بلکې مخزن،تذکره او ارشادالطالبین درې واړه دهغۀ دمشرځوي (ځوي) حضرت میاں عبدالکریم (کریمداد) له قلمه راوتلي اواخون درویزه ته منسوب شوي دي' [1, p35]، ځکه نود اخون درویزه بابا په خیال د'شوکو اوډاکو' په وجه دارزاني هند ته دخفه تللو متعلق الدکتورمیر ولي خان المسعودي دبایزید انصاري د کتاب مقصودالمؤمنین دتحلیل په ابتدا کښې ددغسې ګمانونو رد کوي،اولیکي چې'ودخل في بیعة بایزید وانضم الی حلقته' یعني دبایزید لاس نیوه ئې وکړه اودهغۀ په حلقه کښې ضم شو[35, p33] ، دوي وړاندې دارزاني اوبایزید روښان ترمینځه دموجودمبینه اختلاف نفي کوي او لیکي چې کۀ بالفرض چرې څۀ ؤهم، نو بیا به خامخا راڅرګند شوے ؤ،خپل دغه مؤقف دوي داسې څرګندوي،

'واری ان قول صاحب"حالنامہ" اقرب الی الصواب وهو:"اوفد بایزید الانصاری مریده ملا ارزانی الی الهند ینشر دعوته هناک" واننا نعتمد علی قول صاحب"حالنامہ" اکثر من قول اخون درویزه لان صاحب"حالنامہ" ذکر اتباع بایزید الذین خالفوه وترکوه فلو اغتاظ منہ ملا ارزانی لذکره مولف حالنامہ وبین وجہ الخلاف بینهما،وفوق هذه فانہ لایوجد فی مؤلفات ملا ارزانی شئ یدل علی انہ اغتاظ من بایزید الانصاری بسبب ماواقع بینهما ای اختلاف '[35, p57]

ترجمه:اوداسې ښکاري چې د حالنامې دصاحب(مؤلف) داخبره حقې ته زياته نزدې ده چې بايزيد انصاري خپل مريد ملاارزاني هند ته واستؤلو چې هلته دهٔ دعوت خور کړي، اومونږد اخون درويزه دقول په مقابله کښې د حالنامې دصاحب په وينا زيات باورلرو ځکه چې دے هغه خلق ذکر کوي چې چا دبايزيد مخالفت کړے اودے ئې پريخښے دے نو کهٔ چرې ملاارزاني له دهٔ خفه ؤ نو بيا به دحالنامې صاحب خامخا ذکر کړے ؤ،او سره ددے دملاارزاني په تاليفاتو کښې داسې څهٔ په نظر نهٔ راځي چې ګني دے دبايزيد انصاري نه خفه ؤدهغه اختلاف په سبب چې ددوي دواړو ترمينځه واقع شوے ؤ،

اوس چې دارزاني دوروڼو باره کښې دروښاني تحريك په تذکرو،او دستاويزاتو نظر اچؤ نوپه وړومبي ځل داخون درويزه په 'تذکرة الابرار والاشرار' کښې دهٔ ددوه وروريانو ملا علي خويشکي او ملا عمرخويشکي ذکرزمونږ تر نظره کېږي، اوبيا 'ورسره داخون درويزه د مناظرې ذکر'او بيا په 'جنګ کلان کښې دملا عمرپه وفات دغه ذکر سرته رسي، داخون درويزه دغه قول وروستو جے ايف بليوم هرټ(J.F.Blumhardt) (هم دراورټي Major Raverty)په حواله راخستے دے[36, pp14-15]،خوحالنامه نوره دملا علي دذکر نه علاوه داخون درويزه بابا،دهغوي دمناظرو اوبحثونو نه هم بيخي غلې او ساکته ښکاري چې دروښاني ادب متعلق دنوي بحثونو داجرا تقاضا کوي ،اوهم دغې ته قلندرمومند دخيرالبيان تنقيدي مطالعه کښې هم اشاره کړې ده چې'روښاني تحريراتو کښې دپيربابادمخالفت هيڅ ذکرنه مونډلے کيږي اودغسې داخون درويزه په باره کښې هم روښاني تحريرات خاموش دي'[1, p147] خو زمونږ دپورته مدعا متعلق محترمه عزيزه افغاني د'بايزيدانصاري دنورو خليفه ګانو شيخ ايوب،ملا زکريا او ملاعمرخويشکي ديوسفزو سره شوي جنګ کښې دمرګ'[29, p16]خبره کوي،چې دحالنامې مؤلف يې زيات تفصيل دارنګ بيانوي

'په هغه درې ورځو کښې درې تنه دپيردستګير خليفه ګان شهيدان شول-يو ايوب خليفه دويم ذکريا خليفه اودريم ملاعمر خيشکي رحمهم الله.اوکوم دولس نامور اومشهور ياران چې په هغه ورځو کښې شهيدان شول دهغوي نومونه څه په داسې ډول دي يو آلورحمة الله عليه،ورسره خپل يو څوملګري دويم علي سيد......'[10, p538]

دملا عمر خويشکي متعلق محترم عبدالله بختاني ليکي
'ملا عمر،دارزاني ورور او دبايزيد روښان له پيروانو څخه دے غالبا دی هم فاضل،شاعر اوليکوال و،ددهٔ دشعر کومه بېلګه په لاس کی نه وه ښاغلي حبيب الله رفيع دعبدالغني کاسي له قلمي جونګ نه يو شعر ماته سپارلی دی اووائی څرنګه چه ددې جونګ اکثرې ويناوې دروښانيانو ښکاري نو داټکل له مخه داشعر دعمر روښاني بولم' [37, p917]هم دغسې محترم

حبيب الله رفيع هم دملا عمر او ملا علي ذکر کوي او د'اټکل په بنياد دعمر روښاني' [38]څو شعرونه نقل کوي،خو اټکل ديقين په حيث نۀ شي قبلېدے.

دملاعمر خويشکي 'شهادت'کۀ دهغۀ دژوند باب سرته رسوي نودملاعلي ذکر شايد په ټول روښاني او پښتو ادب کښې مونږ ته په تفصيل اووضاحت سره په نظر نۀ راځي . زلمی هيوادمل د'علي محمد'تر عنوانه ليکي،

'شاعرگروهِ روښانيان علی، محمد فرزند برهان خان خيشکی درحدود قرن دهم هجری درقصور پنجاب زندگی ميکرد نظر به صراحت اخون درويزه ننگرهاری درتحريک ملی روښانيان سهم داشت شخص عالم وسخنور پښتو بود'[31, p345]

> ترجمه:دروښانيانو دډلې شاعر علي محمد دبرهان خان خيشکي زوے ؤ چې دلسمې هجرئ په زمانه کښې يې دپنجاب په قصور کښې ژوند کؤ،داخون درويزه ننګرهاري په صراحت سره دوي دروښانيانو تحريك کښې حصه لرله،عالم ؤ اودپښتو شاعر ؤ.

اوس اوس دملا علي متعلق بل محترم محقق محمد اکبرکرګردروښاني ادب اوتحريك په باب ليکلي خپل اهم تحقيقي اثر

> ' په حالنامه کې دبايزيد روښان عرفاني او فلسفي څېړه' چې محترم عبدالکريم بريالی يې خپل تحقيقي کتاب کښې ذکر کوي چې '...ډېره په زړه پورې څېړنه کړې ده چې دبايزيد فلسفي اوعرفاني څېړنه ده'[39, p26]اوموصوف محترم دغه رائې قائمؤلو کښې حق بجانب ځکه دے چې اکبر کرګرصاحب دبايزيد دافکارودااسماعيلي افکارو سره تقابل،او دحالنامې په آئينه کښې دبايزيد يوې نوې څهرې سازؤلو علمي هڅه کړې ده.اوسره ددے چې دپيرروښان انصاري دپيروانواومريدانو په فهرست کښې اول ذکر دارزاني خويشکي کوي[30, p187]خودارزاني دوروڼو په باب ليکي 'دارزاني دوه وروڼه نورهم چې علي محمدمخلص او ملاعمر نومېدل دپيرروښان دډېرومخکښو مريدانو څخه ګڼل کېدل'[30]څېړندوی عبدالله بختاني هم علي محمد مخلص دروښاني ډلې دمشهور شخصيت ارزاني ورور ګڼي[37, p913]

دښاغليو اکبرکر او عبدالله بختاني په داسې رايې قائمؤلو سره لوستونکي دے اِشکال سره مخ کيږي چې ګڼي ملا علي خويشکي او علي محمد مخلص يو دي ،حالانکې دنورو دلائلو په بنياد خبره ددې په عکس ده، ځکه چې علي محمد مخلص د روښاني ادب د بنيادي کتاب حالنامې مؤلف ،دعربي اوفارسي ادب ژوره مطالعه لرونکے،په تصوفي نکاتو مشمول يو ديوان لرونکے، او ملا علي لاتراوسه په پوره توګه يو ناځرګند کردار او دملا ارزاني ورور،خودغه اشکال هغه وخت نورهم ژور شي کله چې ښاغلےاکبرکرګر هم دغه کتاب کښې وړاندې د'علي محمد مخلص' ترعنوانه جدا بحث کښې 'علي محمد مخلص' مونږ سره په نوي انداز کښې داسې متعارف کوي،

'علي محمد مخلص دابابکر قندهاري کاسي زوی و،ددغي قبيلي يوه لويه پښنه شنواري دي چي علي محمد مخلص هم دشينوار پښتي ته نسبت درلود- دمخلص پلار دبايزيد روښان له زوی جلال الدين روښانی سره په تيراه کې اوسيده'[30, p195]

حالانکي کلونه وړاندي ډاکټر پرويز مهجور خويشکي دعلي محمد مخلص دديوان په مقدمه'علي محمد مخلص ژوند،فکر' ترعنوانه دملا علي خويشکي او علي محمد مخلص په اشتباه اوږد بحث کړے دے[40, pp15-25] او ډاکټر يارمحمد مغموم خټك هم دارزاني خويشکي دوروڼو باره کښې خپل تهيسس کښې تفصيل سره ټول اقوال نقل کړي دي[41, pp400-402]'

اوس دپورته دلايلو دثمري په نتيجه کښې مونږ داګڼلے شو چي ملاعمر او ملا علي داخون درويزه بابا په قول دارزاني وروڼه دي،خو علي محمد مخلص او ملا علي بيل بيل شخصيتونه دي څنګه چي ورته عارف غروال صاحب اشاره کړې ده چي '...خپله علي محمد مخلص دپورتنيو نظريو پر خلاف په خپل شعر کي خپل نوم ملا على نه بلکې علي محمد ليکي'[42, p199] دملا علي په باب دتذکرو خاموشي لوستونکي په سوچ کښې واچوي چې دهغهٔ شخصيت په کومو تيرو کښې ورك پاتے شو،؟

کله چې مونږ په روښاني ادب يا مکتبِ فکر کښې دارزاني خويشکي دعلمي مقام اوحيثيت متعين کؤ نوداهميت اندازه يې دروښاني مکتب مبينه شديد مخالف اخون درويزه بابا له هغه قول نه کيږي کوم کښې چې هغوي د خيرالبيان دڅهٔ حصې دتاليف نسبت دوي ته کوي او داګويا د'الفضل ماشهدت به الاعداء'، (يعني حقيقي غوره والے هغه دے چې دښمنان ئې هم ګواهي ورکړي)،دارزاني په علميت ،فصاحت اوزباندانئ باندي داعتبار او استناد مهر ثبت کوي.اخون صاحب خپل مشهورفارسي کتاب 'تذکرة الابرار والاشرار' کښې دملا ارزاني متعلق ليکي

"باآنکه تمام هم خود تصنيف نه کرده بل بعضے ازاں ملاارزانی ملحد تاليف نموده وبعضےرااين ملعون بخود جمع آورده توضيح قصه ارزانی شاعر آنکه ايشاں سه برادران بودند ازافغانانِ خويشکے يکے ملاارزانی نام دوئم ملا عمر سيوم ملا علی ازجانب هند دررسيدند چون دراين جا نيز الحاددرايشاں اثر کرده بود اما بمجرد وصول ايشان بدين لعنت کافرمطلق آمدند ارزانی چون شاعر تيزفهم وفصيح زباں بود درانواعِ ضلالت وبدعت شعرافغانی وفارسی وهندی وعربی بيان کرده است مملو از انواع ضلالت وآنرا چهاررما ناميده ازانکه پير تاريک راه زنی ومسلمان کشی راپيشه گرفته ارزانی ازوجدا شده باز بهند رفته اماآن دو برادران اوهمراه مانده[43, p149]

ترجمه اومفهوم: په دا(خيال،توګه) چې دغه ټول کتاب ئې خپله نهٔ ؤ تصنيف کړے بلکې له دغه څنې برخې ملحد ملا ارزاني تاليف کړے اوځنې دغه لعنتي پخپله جمع کړے.سپيناوے،دملا ارزاني قصه څهٔ داسې ده چې دوي دخويشکيانو پښتنوڅخه درے وروڼه ؤ.يو ملاارزاني،دوئم ملا عمر،دريم علي له هند له لوري راؤرسيدل ځکه چې دلته پري الحاد نور هم اثر کړے وه،البته دلته په رارسيدو په دې لعنت کافر مطلق شو،ارزاني چې ډېر هوښيار اوخوږژبے ؤ (نو) په افغانی ،فارسی،هندی اوعربی کښې ئې دګمراهئ او بدعت شعرونه بيان کړي دي چې درنګ رنګ

ګمراهیو نه ډك دي اونوم ئې پرې چاررما ایخښے دے،له دې وجې چې پیرِ تاریك لارې شوکؤل او مسلمان وژنه خپل کسب وګرځؤلو نو ارزاني ترې بیل شو وروستو هند ته لاړلو اوهغه دوه وروڼه ئې د(بایزید روښان) سره پاتې شول.

د ملا اخون درویزه له دغه پورته عبارت په بنیاد ،دخیرالبیان په تالیف کښې د ارزاني برخه لرله،خو نور کتاب بایزید روښان لیکلے ؤ،ملاارزاني او د هغهٔ وروڼو ته هند ته دبایزید دتعلیماتو خبر رسیدلے ؤ،پیر روښان 'پیر تاریك' نومؤلے شوے ؤ،ارزاني فطانت او فصاحت لرلو،او په څلورو ژبو کښې ئې دچاررما په نوم کتاب لیکلے دے، دبایزید په'لارو شوکؤلو' ارزاني ترې ددغه کار په وجه هند ته بیرته لاړو او وروڼه ئې ورسره پاتے شول.

داخون درویزه مذکور مبینه اختلاف په تخمین اوګمان بنا ښکاري،او شاید بغیر دڅهٔ جواز اودلیله داسې کؤلو،یا وروستو دهغوی په کتابونو کښې دغه خیال ځایؤلو سره، پسِ پرده مقاصد پخپله مخې ته راځي،خو میر ولي خان مسعودي په دے باب ډېر په ښکاره توګه لیکي چې،

> ولکن هذا کلام لاحقیقة له والحق ان ملا ارزاني لا هواختلف مع بایزید الانصاري ولا هو اعانه فی مؤلفاته'[35, p34]

ترجمه:خوددې خبرې څهٔ حقیقت نشته، اورښتیا خوداده چې ملاارزاني نهٔ بایزید انصاري سره څهٔ اختلاف لرلو او نهٔ ېې دهغهٔ په تالیفاتو کښې دهغهٔ لاس امداد کړے ؤ- دخېرالبیان په تصنیف کښې دارزاني لاس لرلود اخون درویزه ددعوې متعلق مولانا عبدالقدوس قاسمي صاحب هم دخپلو مضامینودکړې په دریمه حصه کښې 'دبایزید مذهبي افکار'تر عنوان لاندې خپل خیال داسې څرګندوي،

> '..خو بیا هم داالزام ماته بے ځایه ښکاري چې ددے کتاب څهٔ حصه به ملا ارزانی لیکلی وی ځکه چه بهرحال پیرروښان دیوعلمی کورنئ فردوو'[44, p78]

داخون درویزه بابا دارزاني په څلورو ژبوکښې دشعر وئیلودمؤقف تائیدداخلي شهادت په توګه دارزاني ددیوان نه هم کیږي، چې دوي پکښې شاید خپل موضوعاتي تنوع ته 'الوان' [2, p352] اوپه 'څلورو ژبو وودلې '[2, p850]سره اشاره کوي، خو ددے باوجودډاکټر پرویزمهجور درائې مطابق دغه بیل بیل دواوین نهٔ دي بلکې په دغه یو دیوان کښې دڅلورو ژبو الفاظ موجود دي او هم دغه اشعارترې مراددي چې دعربی،فارسی،هندی اوپښتو توري لري،[6]

پورته ذکرشوي دلائل اوبحثونه ډېرې نتیجې پخپله دلوستونکیو مخې ته ږدي،دالیکنه شاید چې دروښاني تحریك په تناظر کښې دارزاني اودهغهٔ دورونودژوند په باب تراوسه شوي دتول تحقیق احاطه نهٔ کوي خودهغوی هند پریښودل او د تحریك سره تړون،دتحریك دتعلیماتو په خورؤلو کښې مسَلّم کردار،په هند کښې ګوشه نشینئ کښې دخداے دمخلوق اعتقادي اواخلاقي

[6]ډاکټر پرویز مهجور خېشکي سره زما د ټېلیفون خبرے ۲۵ مارچ ۲۰۲۰

تزکیه اوتصفیه کړل،دمزار دتعین په باب خورې اندازې،دوفات په زمانه او تاریخ بحث،دمزار دسجاده نشین نوي معلومات،په حالنامه او همفکره معاصرینو کښې ددوي ذکر،دغسې ددوي ملا عمر خوېشکي،اوملا علي خوېشکي متعلق دښاغلیو محققینو تحقیق او دهغې تجزیه مونږ ته دسوچ،فکر اوتحقیق نوې لارې په ګوته وي. ددے خویشکیانو وروڼو دتحریك سره دتړون اوللهیت داحال دے چې ملا ارزاني خدا ےجل جلاله ته مخ اودربار اومنصب ته شاکړه اوداخلاص ډیوه اوتعلیمات یې ترننه ورکو زړونو ته دهدایت او اطاعت لاره ښایي،ورور ملا عمر خویشکي یې خپل سرپه تلي کښې کېخواودتحریك په رنګ کښې دهغوي دوینو رنګ هم شامل دے،او ملا علي لکه دتحریك دنورو ملګرو دایمان او ایقان په رڼا نورهم منور شوخو دژوند حالات یې لا تر اوسه په تیرو کښې ورك دي،دوي درخصت په ځاے عزم او دمنصب په ځاے قناعت ،قرباني او توکل غوره کړۀ او دا ګویا دټولو هڅو،بیعت اوکوششونو بهتر حاصل او دخودسپردګئ ترټولو غوره مثال دے، 'خدا رحمت کند این عاشقانِ پاك طینت را'

# Bibliography


[1] Qalandar Momand, Da Khair-ul Bayan Tanqeedi Mutalea, Peshawar, 1988

[2] Parwaiz Mahjoor Kheshki, Da Arzani Kheshki Kolleyat, PhD Thesis, Pashto Academy, Peshawar University, 2005

[3] Parwaiz Mahjoor Kheshki, Da Mirza Khan Ansari Deewan, Millat Printers Lahore, Peshawar University

[4] Parwaiz Mahjoor Kheshki, Da Ali Muhammad Mukhles Deewan, Millat Printers Lahore, Peshawar University

[5] Karimdad, Deewan Karimdad Pa Ehtemam da Khyal Bukhari, Pashto Academy, Peshawar University, 1964

[6] Dawlat Lawani, Deewan Dawlat Lawani, Pashto Tolana, 1353H

[7] Muhammad Zubair Hasrat, Makhzan-ul Islam, Akhund Darweza, UAE Pashto Adabi Tolana, Dubai, Amir Print and Publishers, Peshawar, 1st edition, 2014

[8] Rahman Ali, Tazkera Ulama-e-Hind, Translated: Muhammad Ayub Qadri, Pakistan Historical Society, Baitul Hikma, Karachi, 2nd Edition, 2003

[9] Ashraf Khan Hijri, Deewan, Arranged Hamesh Khalil, Shaheen Barqi Press, Peshawar, 1985

[10] Ali Muhammad Mukhlis, Haalnam-e Bayazid Rokhan, Taleef: Noorullah Wolaspal, Academy of Sciences, 1364H

[11] Ali Muhammad Mukhlis, Naweesanda, Haalnam-e Hazrat Mian Rokhan, Ed: Mohaqqeq Muahammad Fazil Shareefi, Wazarat Etla'at wo Farhang, Afghanistan, 1388/2009

[12] Ali Akbar DehKhuda, Lughat Nama DehKhuda, Vol 1, Moassesa Entesharat wo Chaap Daneshgah, Tehran, Vol 2: Az Dawra-e- Jadeed, 1377, Tehran

[13] Sher Afzal Barikoti, Da Pashto Sher-o-Adab Tareekh, Millat Printers, Lahore, 1995

[14] Abdul Quddus Asim, Haalnama Da Bayazid Rokhan, Taleef: Ali Muhammad Mukhlis, Pashto Academy, Peshawar University, 1st Edition, 2019

[15] Hakim Muhammad Akbar Arzani, Meezan Tib, 1884/1301H

[16] Bihar Research Society, The Journal of the Bihar and Orissa Research Society, 1930

[17] Mufti Ghulam Sarwari Lahori, Khazeenat-ul Asfya, Vol. 4, Tr: Muhammed Zaheer-ud-din Bhatti, Maktaba Nabaweyya Ganj Bakhsh Road, Lahore, Tr: 1414H/1994

[18] Muhammad Iqbal Mujaddadi, Ahwaal wo Athaar Abdullah Kheshgi Qasuri, Daar-ul Mo'arrekheen, Lahore, 1972

[19] ,Akhtar Khan, Bayazid Ansari, PhD Thesis, Pashto Academy, University of Peshawar, 2019

[20] Muhammad Azam Azam, Yar Muhammad Maghmoom Khattak, Nazam(Intekahb), Text-book for BA, Millat Publishing Company, Charsadda, Letter No: 23/B-14/Acad-11, Dated 7 February 2000

[21] Khan Bahadur Maulvi, Muhammad Shafi, Awlya-e-Qasur, Pub: Ahmed Rabbani, Mak-taba Jeelani Printing Press, Lahore, 1972

[22] Susannah Annette Beveridge, Babur Nama: The Memoirs of Babur, Section 111/Hindus-tan, Fifth Expedition into Hindustan, Oriental Books, New Delhi

[23] Abdul Qader Badayuni, Montakhab-ut-Tawareekh, Vol. 1, Tr: Aleem Ashraf Khan, Na-tional Council for Promotion of Urdu Language, Government of India

[24] Olaf Caroe, The Pathans 550 BC-AD1957, London, Macmillan & Co Ltd, 1958

[25] Marmaduke Pickthall, Islamic Culture, VIII: The Hydarabad Quarterly Review, Pub: Nizam's Government, Hydarabad-Daccan, 1929

[26] Sher Ali Banochi, Pashtunon kee Tareekh awr Shajjarre, Ed: Nasrullah Wazir, Pashto Academy, University of Peshawar, 2019

[27] Sher Muhammad Khan Gandapur, Tawareekh Khurshid Jahan, Matba Islamia, Lahore, 1894

[28] Munshi Gopaldas Rai Bahadur, Tareekh Peshawar, Globe Publishers, Lahore

[29] Aziza Afghani, Rokhan aw Pir Rokhan Leekallee Aathaar, Danish Khparandoye Tolana Takneeki Sanga, 1387L

[30] Muhammad Akbar Kargar, Pa Haalnama ke Da Bayazid Rokhan Erfani aw Falsafi Saira, Afghanistan Da Kalturi Wade Tolanna, Germany, Danish Khparandoye Tolanne Takneeki Sanga, Peshawar, 2nd edition, 1385L/2006

[31] Zalmay Hewadmal, Farhang Zaban wo Adbyat Pokhto, Vol. 1, Pub: Wazarat Taleem, Reyaasat Taleef Wa Tarjama, 1356

[32] Syed Muhammad Taqwimul Haq Kakakhail, Mullah Arzani aw Mian Rokhan, Ed: Muhammad Zubair Hasrat, Faizul Wahab Faiz, Abdur Rauf Arif, Da Adabi Dostano Maraka, Mardan, 1990

[33] Yar Muhammad Maghmoom Khattak, Rokahanyan aw Pokhto Adab, Pashto Academy, University of Peshawar, 2011

[34] Muhammad Najm-ul Ghani Khan Rampuri, Mazahib-ul Islam, Raza Publications, Lahore 1398 AH/1978

[35] Meer Wali Khan Al-Masudi, Maqsud-ul Muminin le bayazid Ansari, Manshurat Majmaul Buhuth el Islamaya, Islamabad, Pakistan 1396/1976

[36] James Fuller Blumhardt, Catalogue of the Marathi, Gujarati, Bengali, Assamese, Oriya, Pishtu, and Sindhi Manuscripts in the Library of the British Museum. British museum, 1905.

[37] Abdullah Bakhtani, Pokhtana Sho'ara, Vol. 4, Afghanistan Academy of Sciences, 1357

[38] Habibullah Rafi, Rokhani Leekanne, Arzani Pukhto Adabi Tolanna Kheshgi, Nowshera, 1979

[39] Abdul Karim Baryali, Rokhani Tehreek pa Quetta aw Qandahar ke, United Press, Quetta, 2018

[40] Ali Muhammad Mukhlis, Deewan, Fw: Perwaiz Mahjoor Kheshki, Peshawar University

[41] Yar Muhammad Maghmoom Khattak, Rokahanyan aw Pokhto Adab, Pashto Academy, University of Peshawar, 2005

[42] Muhammad Arif Gharwal, Da Pokhto Adab pa Parmakhtyayi Baheer da Rokani Ghorzang Aghaizi, Afghanistan Academy of Sciences, 1394L

[43] Akhund Darweza, Tazkerat-ul Abrar wal Ashrar, Idara Ishat Sarhad

[44] Abdul Quddus Qasimi, Da Bayazid Mazhabi Afkar, Pashto, 2(2), Feb-Mar 1959